# د ښاري اقتصاد کنټرول

## د جامع او بدلون وړ ودی لپاره د ښاري اقتصاد او فضايي پلان جوړوني ترمنځ همغږي راوړل

د بدلون په لسيزه (۲۰۱۵-۲۰۲۴) کې د افغانستان ښارونه به له شکه د اقتصادي ليږد او تولنيز ادغام لپاره د مهمو مرکزونوحيثيت لری. نن ورځ لوی ښارونه د ناپلان شوی پراختيا منفی اغيزی لکه ښاري بيوزلی، بې کاری، د عوايدو واټن او غير رسمي اقتصادي فعاليتونو تجربه کوي. د دولتی پاليسيو او لومړيتوبونو متوازن کول چه د ښاري اقتصاد او فضايي پراختيا ستراتيژيو د همغږی ،زيربنا يی پانګونی او غير رسمي اقتصاد پر رسمي اقتصاد بدلولو سبب کيږی،کيدای شی چه منطقوی متوازنه وده منځ ته راولی.

۴ ګڼه مقاله، دوهمه لړی، مارچ ۲۰۱۶

### د موجودو اقتصادي پايو پياوړتيا او د نويولارو ايجادول

د افغانستان ښارونه په يويشتمه صنعتي پيړی کې بايد خپلو اصلي توليدي فعاليتونو او تاريخي سوداګرۍ سکتورونه ته د دوباره پياوړتيا له لاري خپل توازن وساتي. له تاريخي لحاظه افغانستان په نړيوالو او سيمه ييزو بازارونو کې د کرهنې او لاسی صنعتی توليداتو لکه وچې او مغز لرونکو ميوې، پنبه، غالۍ او ټوکران د يوه عرضه کوونکی په توګه تثبيت شوی هيواد دی. افغانستان په وچه کې ايسار هيواد دی مګر له دی محدوديت سره سره يی د وربښمود لارې د زړه په حيث رول لوبولی دی. د افغانستان په څلورو خواوو کی عمده تجارتی مرکزونه له ګاونډيو هيوادونو سره د اړيکو او نړيوالو په منظور د اقتصادي فعاليتونو له لارې رامنځته شوی دي، اوس دغه عمده سيمه ييز سوداګريز مرکزونه د افغانسان په پنځو سترو ښارونو کابل، جلال آباد، مزار شريف، هرات، او کندهار کې موقعيت لري..

د تيرې لسيزې په جريان کې ، د افغانستان ښارونو د سرعت او ودې له پلوه د پام وړ اقتصادي او فضايي بدلون تجربه کړيدی. د افغانستان سوداګريز او ترانزيټي ښارونو لکه لشکرګاه، کندوز، تالقان، پلخمري، شبرغان، زرنج، ميمنه او غزني د منطقوي اقتصادي مرکزونو په حيث د ظهور په حال کې دي. ښاري اقتصادي فعاليتونه لکه د پرچون او عمده پير او پلور، توليدات، عامه اداره، خدمتونه، ټرانسپورت او ساختمان په چټکی سره د هيواد داخلي کرنيزو توليداتو ځای نيسی پرمختللی سکتورونه لکه د نوی کيدو وړ انرژي، معلوماتي تکنالوژي او ارتباطي مخابرات وړو وړو ښاري کار ته پراختيا ورکوي او د با القوه اشتغال او نوښتونو د را وستلو لپاره زياته وړتيا لري.

### هدايت بر ساحه تطبيق پاليسی

اساسا" د ښاري اقتصاد د پراختيا پاليسي او زيربنا په کچه بايد د رقابت محرکو عواملو پياوړي کولو ته توجه وشي، چې هغه عبارت دي له: د ژوند کيفيت، د حکومت ښه واب وينه، بيخ بنا/زيربنا، بشري سرچينی، د سيمه ييزه اقتصاد محرک قوت او د اقتصادی فعاليتونو د مخ ته وړلو لپاره لګښتونه . د افغانستان جيوپوليتيکی شرايطو ته په کتوسره د اوسنی اقتصادي وړتيا لوړول د اقتصادي ثبات د محسوسو نتايجو ښودلو لپاره اوږد مهاله ستراتيژيک لومړيتوبونه بايد پياوړي شي. د دغه مقالي د پاتې برخې په مرسته، د ښاري اقتصاد د پراختيا ستراتيژی د ښارونو او پانګونې په کچه د ځانګړي زيربنا، چې دتوليداتو د پياوړتيا او اقتصادي مؤثريت سبب کيږي، په دقيق ډول وارزول شي.

١ شميره انځور: د يوی جغرافيايي فضاي پړوايزه کړنې ترسره کول او د فوري نتايجو او اوږد مهاله تأثيراتو لپاره د مؤثرو پاليسيو طرح کول.




په ملی سطح له جغرافيايی ښاری پلان سره د اقتصادی ستراتيژی ودی هم رديفه کول




د يوی ساحی په سطحه د قتصادی زيربنا د موثريت قيمت په هکله د نظرونو تقويه




د سړک په سطح: د ښاری بافت کی د غير رسمی مارکيټونو منظم کول او د غير رسمی اقتصاد او تجارت مدغم کول ددی پرځای چی له منځه يو وړل شی

[1]State of Afghan Cities, 2015.
[2]In 2014, urban economy, particularly the service sector contributed over 50 percent to the national domestic product while housing only 24 percent of the total population. State of Afghan Cities, 2015.
[3]Enhancing the Competitiveness of Cities: Unpacking and improving the drivers of city competitiveness. 2014. Discussion Paper #4, Urban Economy Branch, UN-Habitat.

### اوله شمیره ستراتیژي: د ښار په کچه د ښاري اقتصاد فضايي ستراتيژۍ

په افغانستان کې د ښاري اقتصاد فضایي ځانګړتیاوې د نا پلان شوي او پر خپل سر ودې پر اساس تعقیب شوی دی. په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان د ښارونو د وضعیت راپور د ځمکې څخه د ګټې اخستنې په اړه ښيي چه په افغانستان کې سوداګریز فعالیتونه د غیر رسمي بازارونو په چوکات کی د عمده سرکونو او لويو لارو و په امتداد چه د شاوخوا سیمی له منطقوی مرکزونو سره پراختیا کړې ده. د تاریخي ښارونو مرکزونه لکه مزارشریف هم په ډېر متراکم سوداګریز مرکز تبدیل شوی دی.

صنعتي فعالیتونه شته خو په ټول ښار کې په وړو وړو ساحو کی د عمده سرکونو په امتداد تیت پرک دي. پداسی حال کی چه صنعتي فعالیتونه په لویو ښارونو لکه کابل، کندهار، هرات او مزارشریف کې د پلان شوي صنعتی سیمی په محدوده کې د ښار په اطراف کې صورت نیولی دی او پلان شویو سیمو ته د لاسرسي لپاره ډېر فرصتونه او امکانات د صنعتکارانو په اختیار کې ورکول کیږي.

### دوهمه شمیره انځور: د ښاري اقتصاد فضايي تیتوالی د ناقصي ودې نمونه ښيي

د مشابه/ ورته مساحت لرونکو ښارونو په مقایسه، د افغانستان ښارونو د سوداګریزه فعالیتونو میزان ۵۰٪ تیټ دي، چې دا د افغانستان د ښاري اقتصادي ظرفیتونو څخه نه استفاده په ګوته کوي، چې دلیل یې د ځمکې نا سم تخصیص او غیر مؤثري ښاري فضایي پالیسی دي.






مشخصاتو لست: صنعتی ساحی، تجارتی ساحی، سرکونه

مزارشریف: سوداګریز فعالیتونه د تاریخي میراث تر څنګ د ښار په مرکز کی په مختلط ډول له اداری فعالیتونه سره قرار لري. دا په داسې حال کې چې د ښار په نورو سیمو کې سوداګریزه ځمکه نشته او په پراخ ډول د ښار له مرکز سره تړلې ده چې په همدې دلیل پرخلکو د تلو او راتلوپه سبب ډېر لګښتونه راځی.

جلال أباد: سوداګریزې ځمکې د ښار په مرکز د ختیځ-لویدیز خط پر امتداد پرتې دي. صنعتي ځمکې په پراخه توګه تیت پرک په کم عرضه تنګو کوڅو کې موقعیت لري. لدې څخه علاوه د صنعتي سیمو شتوالی د استوګنیزو او سوداګریزو سیمو په منځ کې لدې سیمو څخه کټه اخستنه د نورو مشکلاتو سبب کیږي.

پلان جوړوني پالیلی د ترافیکو ازدحام، د هوا ککړتیا، د کاري قوې لږ مؤثریت او کار ته د رسیدو پر محال د وخت ضایع کیدل دي. سوداګریزو او صنعتي مشتریانو ته دخدمتو د وړاندې لپاره پر زیربنا او نورو عامه آسانتیاوو لکه برښنا، اوبه ټلیفون او داسې نورو باندې د پانګونې لږ مؤثریت هم د سوداګریزو او صنعتي مرکزونو دتراکم نه شتون دي.

### ښارونو په کچه داقتصادی فعالیتونو ډلبندي او راټولول

پالیسي جوړونکي د افغانستان د ښارونو د اقتصادي تحرک د لا پیاوړتیا لپاره باید د ښارونو په کچه د اقتصادي فعالیتونو ډلبندي تسهیل کړي. د دی فعالیتونو ډلبندي د کاري ځواک او مهارتونو د لیږد، د پوهې د تبادلې او توکیو لپاره د بازار موندنې سبب کیږي، چې ټول دغه عوامل د ښاري اقتصادي تحرک د ښه والي سبب کیږي. د رقابت او نوښت د ښه والي لپاره د فردي تشکلونو پرځای د اقتصادي تشکلونو پر شبکی تمرکز کول د اقتصادي فعالیتونو د ډلبندي یوه بله ګټه ده.

د ارزښتي زنځیرونو پورته لورته او کارته لورته سره یو ځای کول د اقتصادي فعالیتونو د فضا او ګټې اخستني له نظره د متحرک او ګټمن ښاري اقتصاد د درلودو لپاره حیاتي اهمیت لرونکي ده. حرفه لروونکي او پالیسي جوړونکي د سوداګریزه او صنعتي فعالیتونو د ډلبندي د ودې لپاره ښاري اقتصادي فعالیتونه په مناسبو موقعیتونو کې ځمکې او اړینه زیربنا له مالی او قانوني ابزارو څخه ګټه اخستلای شي. دبیلګې په توګه، په افغانستان کې کرنیز صنعتي کلسترونه کولای شي د ارزښت یوه تفصیلي کړۍ تحلیل کړي، چې د اړتیا وړ مهمې زیربناوې، د ځمکې تخصیص، د ځیرنې او پراختیا، بازار او سوداګریزو ټولنو ته لاسرسی، د مداخلو د نورو ممکنه سیمو په منځ کې په ګوته کړي او روڼنې ګټه تری واخلي

### دوهمه شمیره ستراتیژي: په ستراتیژیکو موقعیتونو کې د اقتصادي زیربناوو اولویت بندي

د ښارونو ترمنځ اتصال او داخلي ښاري ټرانسپورت، د بریښنا موجودیت، مخابرات، اوبه او د فاضلابو د دفع سیم او داسي نور ښاري خدمتونه له وړاندې د صنعتي پانګونې لپاره اړین ضرورتونه دي چې د وړو، متوسط او لویو تشبثاتو لپاره وي. پرته له شکه د افغانستان هر یو ښار د زیربنا له موانعو سره مخا مخ دي. په داسی حال کی چه د اساسی زیر بناوو لپاره لومړیتوبونه او اړتیاوی د اقتصادی سکتورونو د ودی پوتانسیل د دقیقو ارزونو او تشخیص پر اساس او هم دا راز په ښارونو کی د متراکمو قوو پر بنا صورت مومی چه دهغوی په واسطه د ښاری منطقوی اقتصادی توسعی پوتانسیل او شرکتونو تشکیل کنترول کیدلای شی اولویت بندي د اقتصادي سکتورونو د ارزونې پر اساساو موجوده موانعو چې په هر ښار کې اړین دي. د ستراتیژیکو ولسوالی ښاروالی کله تورخم او اسلام قلعه په منطقوي سوداګری کې د صادراتو-وارداتو او عبور او مرور سرحدونه دي. نو ظهور ښارونه د اقتصاد په عرصه کې د خپلو ځانګړو اړتیاوو برآورد کولو ځانګړي اقتصادي زیربناوو ته اړتیا لري. پیوتانسیل او شرکتونو تشکیل کنترول کیدلای شی قو ارزونو او تشخیص پر اساس او همدا راز په ښارونو کی قوو پر بنا صورت مومی چه د هغوی په واسطه د ښاری منطقوی اقتصادی توسعی منسجم سهولتونه لکه د تدارکاتي، ټرانسپورټ سیستمونه، د ګدامونو آسانتاوې، ترمینلونه، د سوداګریزه بارونو یا محولو د تخلیه ځای، ګمرکات او اداري دفترونه چې د داخلي سوداګري لپاره د سرحد دواړو لوریو ته تسهیل او برابر شي. دی ته ورته زیر بنایی پانګه اچونی باید د ملی فضایی ستراتیژیو پر اساس صورت وومومی په دی ډول چه د طبیعی سر چینو په خوا کی تجارتی سکتورونه ایجاد او تشویق شی د مثال په توګه: کانونو ته نږدی د ساختمانی سکتور او تولیدی پروسی او د هغوی د موادو عرضه کول چه په یوه لوی مقیاس د شغلونو د ایجاد فرصتونه او دکار د قواوو لویی زیرمی په لیری پرتو ښاری سیمو کی برابروی.

ځانګړي اقتصادي زونونه ښارونو، کار قوی ته لاسرسي، د ځمکې موجودیت او ټولنیز او چاپیریالي تاثیرات سهولت براساس د ښار په مناسبو موقعیتونو کې رامنځته کیدای شي. دغه ځانګړي زونونه د سهولتونو لکه باکیفیته زیربناوې، د اعتماد وړ بریښنا تامین، د وړو او متوسطو او لویو صنایعو لپاره متناسبي د اقتصادي فعالیتونو پر وصعت سره مختلفې سیمې برابرول، د وړو اقتصادی فعالیتونو د مراقتب او ساتنې لپاره سوداګریز مرکزونه، مالیاتي تشویقي بستي کله د واردات-صادرات ګمرکي تعرفو وړاندیزونه. له هغه ځایه چې خاص اقتصادي زونونه د پیچیلو مسایلو لکه قباله، د ځمکې استملاک، پراختیایي لازې له مخکې حل شوي وي، دا کولای شي پانګوال را جذب کړي.

### دریمه شمیره ستراتیژي: په ښارونو کی د غیر رسمی اقتصادی فعایتونوادغام

غیر رسمي پانګونې چې د رشد په حال کې ده د افغانستان په عمده ښارونو کې د اقتصادي او سوداګریزو مرکزونو د تزلزل سبب ګرځیدلي ده. که څه هم غیر رسمي اقتصادي فعالیتونه تر مطالعې لاندې ندي نیول شوي، تقریبا په مجموع کې ۹۰٪ د افغانستان اقتصادي فعالیتونه تشکیلوي چې ډېره کاري قوه یې ځان ته جذب کړی ده. په عمده ښارونو کې پرچون پلورنځي، کارخانې، ساختماني سکټورونه د غیر رسمي اقتصادي فعالیتونو اصلي عوامل په ګوته شوی دي. خو د غیر رسمي اقتصادي فعالیتنو منفی جوانب دا دي چې محروم قشر او ښاري بیوزلی کسان په ځانګړي توګه ښځې، پناه غوښتونکي، داخلي بې ځایه شوي کورنۍ د ډېر کم لاسمزد په مقابل کې کار کوي او د قانون له لوري ډېر کم محافظه کیږي او شاقه ترینو کارونو ته مجبور یږي.

د پا لیسیو کمبود او سرګړنړ دیزاین لپارهد لار ښودونو کموالی،ګرزنده پلورونکی او له ساحو څخه د کراچی والونا قانونه استفادی د پیاده رو د قوانینو او ترافیکی جریان په خلاف د ژوند پر چاپیریال منفی اغیزی کوی چه د افغانستان په ډیرو ښارونو کی د کثافاتو د ډیروالی سبب کیږی.

غیر رسمي ښاري اقتصادي فعالیتونو ښار د بیوزله طبقې لپاره د اشتغالی عوایدو یوه حیاتي منبع ګرزولی ده او پدې خاطر مؤثرې پالیسی ددې پر ځای چې دا ډول فعالیتونه حذف کړي هغه ته رسمیت ورکوي. دوه ډوله غیر رسمي اقتصادي فعالیتونه په پراخه توګه په قانوني پالیسیو مستقیم تاثیرات لرلای شي: (الف) هغه اقتصادي پالیسی چې د غیر رسمي اقتصادي پانګوني پر ایجاد، عملیاتو او موثریت تاثیر وکړي، (ب) هغه ټولنیز او د کاري ځواک محافظتي اقدامات چې د کارګرانو شغلي ګټې تر تاثیر لاندې راولي.

د غیر رسمي اقتصادي سکتور له رسمي اقتصادي سکتور سره د یو ځای کولو لپاره د ثبت، اداري او قانوني لګښتونه باید د سوداګریزو فعالیتونو لپاره حد اقل ټیټ شي ترڅو د اقتصادي فعالیتونو د تر سره کولو لپاره مناسبه فضاء مهیا شي. مثلا تشویقي اقدامات دغیر رسمي فعالیتونو درسمی کولو لپاره کولای شي د وړو سوداګرو او پلورونکو لپاره د جواز صادرول او همدارنګه لومړیو خدمتونو، بازار او دفترونو ته ښه لاسرسی وي.

حکومتونه کولای شی چه د غیر قانونی سکتورونو(اقتصادی او تجارتی) د ادغام او ښه کولو لپاره په ښارونو کی پالیسی طرح کړی. بنکاک او دهلی د هغو ښارونو له جملی څخه دی چه ښه قانون او پالیسی یی په سړکونو کی د د تجارتی فعالیتونو د تقویی لپاره پیشنهاد او ایجاد کړی او د ژوندانه وړ ښارونه دی بیله دی چه د پیاده رو نو او وسایطو په حرکت کی له قانون څخه سر غړونه وشی د مثال په توګه: د ارتو پیاده رونو ایجاد چه دداسی ساحو لرونکی وی تر څو لاس پلورونکی ورته لاس رسی ولری ، دشار مرکز، د ناحیی په سطح پلورنځي او فرهنګی ساحی د یوه منظم شاری بافت لپاره ښه تجربه ده. اړوند ښاری ارګانونه باید د راکړی ورکړی فعالیتونو لپاره ساحی تهیه کړی تر څو ورځنیو او اوونیزو فعالیتونو ته ښه فرصتونه را منځ ته شی.

نیروبی او دهلی ددی تجربی په ایجاد کی ډیر بریالی ښارونه دی. ښاری لار ښودونکی باید د فرصتونو راوړلو پالیسی د معیشت لپاره له نظره تیری کړی چه د مختلفو طبقو/ډلو لکه : بی وزلی کورنیو ،مهاجرینو،بیځایه شویو او میرمنو خصوصا "هغو خلکو ته چه د غیر قانونی تجارت څخه خپل ژوند په مخ بیایی اغیزمن تمام شی.

[4]Local Economic Development in Practice - A Toolkit for LED Practitioners. Habitat, 2013

[5]State of Afghan Cities, 2015.
[6]Innovative policies for the urban informal economy. 2006. UN Habitat

دریمه شمیره انځور: د ښار په مرکز کی د پیاده رونو ځانګړی ساحی درسمی او غیر رسمی پرچون پلورنی د فعالیتونو لپاره



د ۱ انځور عنوان: د نیو یارک په ښار کې د هایلاین سیمه: په غیر استفاده شویو سیمو کې موقتي بازارونو ته اجازه ورکول یا تر کار لاندې لکه د لویو لارې لاندې واقع سیمې





د ۲ انځور عنوان: بانکوک: په سرکونو کې د اجناسو د پیرولو أره د ځانګړي او مخصوص پیاده رو.

د ۳ انځور عنوان: د اورشلیم پخواني ښار- د ښار په مرکز کې د پاده رو ځانګړې سمې د رسمي پرچون پلورنې لپاره غوره ځای.

## راتلونکی مسیرونه:

- د سیمه ییزی اقتصادي پراختیا د پلانونو جوړول او تطبیقول د ملي فضایي پلانونو سره په مطابقت کی په ستراتیژیکو ښارونو او هغو ښاروالیو کې چې مختلف د سلسلې مراتب او بیلابیلی وظیفوی لري لکه، د هرات او بلخ ولایتونو مرکزونه، سوداګریز او ټرانزیټي مرکزونه لکه تالقان، کندوز او بامیان.
- له صنعتی ساحو څخه د هغو ښارونو مرکزونه تخلیه کول په کومکی چې په استوګنیزو او سوداګریزو سیمو کې صنعتي سیمې واقع شوی وی، مثلا په کندهار او جلال آباد کې له ښاري پلان څخه په استفادې، د ساحه بندي له مقرراتو او اقتصادي مشوقونو څخه په استفادې سره د هغوی انتقال صنعتی پارکونو او ځانګړو اقتصادی زونونوته تر څو په یوی مشخصی ساحی کی د صنعتی او اقتصادی فعالیتونو له متراکم کولو څخه ګټه واخستله شی .
- ښاری داخلی ترانسپورت اوپه ښارونو او پولو کی یی اقتصادی زیر بناوو ته بهبود ورکول تر څو د تراکم کولو لګښت کم او اقتصادی فعالیتونو ته فضاء ښه شی .
- د سوداګریزو ترجیحاتو سره سم د اقتصادي سیمو د نه بریالي کیدو د خطر کمولو لپاره د زیربنا یی پلانونو پر بنسټ د پالیسیو د اسناد برابرولو لپاره د موجوده اقتصادي طبقو په اړه ساحوي څیړنی ترسره کول
- په ټول ښار کې د غیري رسمي اقتصادي فعالیتونو تنظیمول او د سوداګري د ودې لپاره د ناحیو تشکیلول، د سوداګری د ودې شوراګاني او غیر رسمي فعالیتونو د موثریت او تقویی لپاره چاپیریال ښه کول.
- د اقتصادی فعالیتونو د مرکزونو ایجادول او له هغو څخه حمایت،د کوچنیو او لویو سوداګرو د نویو پانګونو ارتقاء ،د خصوصی سکتور په مرسته د جدیدالتاسیس تجارتی فعالیتونو پیل په غیر رسمی اقتصادی فعالیتونو کی د پانګی اچونی په شمول.

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د ښاری لومړیتوب د ملی پروګرام په انکشاف کی کمک کوی چی دا به را روانه لسیزه کی د افغانستان د ښاری لومړیتوب برخه وی دی لومړیتوبونو کی به د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام ۵ ښاری زونونو او ۲۰ ستراتیژیکو ولسوالیو ښاروالی تحلیل او تجزیه کیږی چی مهم معلومات او دقیق ارقام به لاس ته راشی اود موثری پالیسي او ملی پروګرامونو په ترتیبولو کی به وړاندیزونه وشی .

© ۲۰۱۶ دغه مباحثي پاڼه یوازی د غیر تجارتی موخه لپاره د ملګرو ملتونو د بشر د میشته کیدنی پروګرام په لیکل شوی ژمنی سره امکان لری چی تکثیر، انتقال او یا د بیا پیدا کیدو سیستم کی وساتل شی. کوم تعریفات، څیړنه، نتیجه ګیری او سفارشونه په دی نشریه کی د ملګرو ملتونود میشته کیدنی پروګرام د لاربشوونی شورا ، د دی پروګرام د غړو هیوادونو او یا د افغانستان، استرلیا او انګلستان حکومتونو د نظریاتو ښکارندونی نه دي.